مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۱۲

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسلاو اتمه برخه)

### جلال الدین طرزي

په ۱۹۱۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئـې د استقلال په ښوونځي کې کړي دي. په بمبئـي کې افغان قنسل. د باندنیو چارو په وزارت کې : د آرشیف رئیس، د پروتوکول رئیس، د نړی والو چارو رئیس. په ۱۹۲۱ (؟) کې په تهران کې سفیر. په ۱۹۵۸ (؟) کې په بمبـئي کې جنرال قنسل. په ۱۹۷۱ز کال کې تقاعد سو. د ګڼ شمېر کتابونو او نشراتو ژباړونکی او لیکوال. مورنی ژبه ئـې دري ده.

### محمود طرزي

د غلام محمد طرزي (چې په ۱۸۸۵ز کال عثمانیي ته تبعید سوی وو) کشری زوی په ۱۸۶۵ز کال کې په غزني کې (کله چې مور ئـې له کابله د کندهار پر لور په سفر روانه وه) وزېږېد. محمود طرزي ۱۷ کلن وو چې کراچي او بغداد ته له خپل پلار سره لاړ. وروسته له خپل پلار سره استانبول ته لاړ؛ په استانبول کې ورته په ورین تندي ښـهٔ راغلاست وویل سول او د استوګنې لپاره دمشق ته واستول سول. محمود طرزي د خپل پلار تر نظر لاندې زده کړې وکړې. د دمشق د شیخ محمد صالح له لور اسماء رسمیي [1] سره ئـې واده وکړ. په ۱۹۰۴ز کال کې کابل ته راستون سو. څه دپاسه ۳۰ کتابونه ئـې ولیکل؛ یو له دغو کتابونو څخه په تورکي ژبې لیکل سوی د روس – جاپان د جګړې کتاب وو چې محمود طرزی له تورکي څخه دري ته په ۱۹۰۷ز کال کې وژباړهٔ. له ۱۹۱۱ تر ۱۹۱۸ز کال پورې د سراج الاخبار محرر. په ۱۹۱۹ز کال کې د افغانستان د باندنیو چارو وزیر. په ۱۹۲۰ز کال کې د میسوري په کنفرانس کې د افغان پلاوي مشر. په ۱۹۲۱ز کال کې د کابل کنفراس لپاره د افغان پلاوي مشر. په ۱۹۲۲ز کال کې پاریس کې لومړنی افغان مختار سفیر. په ۱۹۲۴ز کال کې کابل ته راستون سو او د باندنیو چارو د وزیر په توګه مقرر سو. د ۱۹۲۷ز کال کې جنوری په میاشت کې د روغتیایي معاذیرو له کبله اروپا ته د درملنې لپاره لاړ. مخکې له دې چې اعلیحضرت امان الله خان په ۱۹۲۸ز کال کې له کابله ووځي دی کابل ته راغی او د ۱۹۲۹ز کال د جنوری په میاشت کې ورسره یو ځای کندهار ته لاړ او د ۱۹۲۹ز کال د فبروری په میاشت کې هرات او فارس ته لاړ. بیا تورکیې ته لاړ او د ۱۹۳۳ز کال د نوامبر د میاشتې په ۲۳ نـېټې په تورکیې کې وفات سو. محمود طرزي یو شهیر نشنلیست او د افغانستان د ژورنالیزم

[1] -Asma Rasmiya



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پلار وو. محمود طرزي د افغانستان د معاصر تأريخ يو له ډېرو مهمو شخصيتونو څخه دئ چې د افغانستان د استقلال په لاره کې ئـې خپله ټوله وړتيا او انرژي قرباني کړه.*

## مـحـمـد صديق طرزي

د امير امان الله خان پر مهال شوروي اتحاد ته لاړ او د پيلوټ په توګه وروزل سو. په ۱۹۸۰ز کال کې د پلار وطني ملي جبهې/ جبهـهٔ ملي پدر وطن د ښاري کمېټې رئيس. په ۱۹۸۳ز کال کې وفات سو. ددهٔ په زامنو کې يو زوی ننګيالی نومېږي چې د ننګو طرزي په نوم شهرت لري او د سيد احمد ګيلاني له ښيني سره ئـې وادهٔ کړی دئ.

## وحيدالله طرزي

ږد افغان ديپلومات او چين، جاپان او فرانسي ته د پخواني افغان سفيرږ حبيب الله طرزي زوی په ۱۹۲۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبيبـي په ښوونځي او په شانګهای کې په يوهٔ امريکايي ښوونځي کې ئـې زده کړې کړي دي. په برکلي کې د کاليفورنيا له پوهنتون څخه ئـې خپل ليسانس تر لاسه او ۱۹۵۳ز کال کې افغانستان ته راستون سو. د باندنيو چارو په وزارت کې په کار مقرر سو. په ملګرو ملتونو کې د تقرر لپاره سيالي ئـې وګټله، (د عبدالوهاب طرزي له لور) صوفيا اپتن سره ئـې وادهٔ کړی دئ او په ۱۹۵۴ز کال کې له خپلې مېـرمنې سره نيويورک ته لاړ. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۸۰ز کال پورې ئـې په ملګرو ملتونو کې په بېلابېلو پُستونو کې کار کړی دئ. په ۱۹۸۰ز کال کې په ژنوا کې د ملګرو ملتونو مرستيال دايرکټر جنرال وو.

## ډاکټر زمريالی طرزي

د صديق طرزي زوی. د حبيبيـي له ليسې څخه فارغ سوی او په ۱۹۷۳ز کال کې ئـې د ستراستبرګ له پوهنتون څخه خپله دکتورا په لرغون پېـژندنې کې تر لاسه کړې ده. په ۱۹۷۴ز کال کې په کابل کې د لرغون پېـژندنې د خدماتو عمومي مدير وو.

## عبدالحسين توفيق

د غلام حسين زوی په ۱۹۱۸ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۲۱ز کال کې له خپل پلاره سره هرات ته لاړ او خپلې زده کړې ئـې همدلته په هرات کې ترلاسه کړلې. په محاسبې کې ئـې زده کړې وکړې او په هرات کې ئـې يو درملتون پرانيست. خو دغو ټولو سره سره ددهٔ ټوله مينه له شاعري سره وه او يو مشهور شاعر ورڅخه جوړ سو.

## محـمـد هاشم توفيقي

تحصيلات ئـې په جرمني کې کړي دي. د افغان نساجي کمپنۍ منيجر. په ۱۹۷۵ز کال کې د کانونو او صنايعو په وزارت کې د صنايعو د رياست رئـيس. مېـرمن ئـې جرمنۍ ده او يو زوی لري.

## سيد مـحـمـد عليشاهٔ توکلي

د هزاره جاتو يو سيد دئ. په ايران او عراق کې شيعه الهيات لوستي دي. په ۱۹۸۰ز کال کې د افغان اسلامي چارو د رياست مرستيال رئـيس.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

## ډاکټر سید موسی توانا

د تخار په ولایت کې زېږېدلی دئ. د کابل پوهنتون د شرعیاتو له پوهنځي څخه په اسلامي فقه کې لیسانس لري. د قاهرې د الازهر له پوهنتون څخه ئې خپله ماستري او دکتورا تر لاسه کړې ده. د کابل پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي استاد. په پېښور کې د جمعیت اسلامي مرستیال رئیس.

## حسن علي طیب

د سلطان علي کشتمند ورور. په ۱۹۸۰ز کال کې د ټولګټو/ فواید عامې د وزارت مرستیال وزیر.

## محمد محسن طبیبي

د محمد حسین زوی په ۱۹۳۴ز کال کې د میدان په بهسودو کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې په خپل کلیوال ښوونځي کې، د رحمن بابا په لیسې او د ابن سینا په لیسې کې او د کابل په دارالمعلمینو کې کړې دي. په ۱۹۵۹ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه فارغ سو. په ۱۹۶۰ز کال کې د کابل موزیم کارمند. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۱ز کال پورې ئې د یوهٔ کال لپاره له یوهٔ فرانسوي لرغون پېژندونکي سره کار وکړ. په ۱۹۶۲ز کال کې د صنایعو د هنر په ښوونځي کې د ادبیاتو ښوونکی او له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د سپورت په لیسې کې ښوونکی. په ۱۹۶۸ز کال کې د محکمې کارمند؛ او په ۱۹۷۰ز کال کې د محکمې اداري مدیر.

## پوهاند ډاکټر حبیب الله تږی

د ګل دوله [2] زوی د ۱۹۳۲ز کال د جنورۍ د میاشتې په لومړۍ نېټې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۶ز کال کې ئې خپل لیسانس په پښتو او پارسي ژبو کې او ددغو ژبو په ادبیاتو کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه تر لاسه کړ. په ۱۹۶۴ز کال کې ئې په ژب پوهنې کې ماستري د میشیګن له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. په ۱۹۷۷ز کال کې ئې خپله دکتورا په ژب پوهنې کې د ایلي نویز له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۶ز کال پورې د منځنیو ښوونځیو د پښتو ښوونکی. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي او پښتو او پارسي ژبو پوهنیار او پوهندوی. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۸۰ز کال پورې پوهاند. په پښتو، پارسي او انګلیسي ژبو د څو آثارو مؤلف. له «مرګرۍ» [3] سره ئې واده کړی او د امریکا په متحده ایالاتو کې اوسېږي.

## فضل احمد طغیان

(د غوایي له پاڅون وروسته) د (خلق دیموکراتیک ګوند – ژ) د مرکزي کمېټې غړی. د کابل پوهنتون استاد. د کابل ولایت والي. د کابل د ولسي جرګې د اجرائیوي کمېټې رئیس.

## جنرال عطاء محمد توخي

---

[2] -Gul Dawlah

[3] - Margery : موږ په پښتو کې د مرغلرې نوم لرو. په سانسکریت کې د مرغلرې نوم په څو ډولونو راغلی دی لکه : مَوکیکا मौक्तिक، مانې मणि، ساومیا، مانیکا मणीच او نور. مرجري په یوناني ژبې کې ښځینه نوم دئ چې د مرغلرې په معنی دئ او دا زموږ پښتو ته زښت ډېر نـېږدې دئ چې کېدای سي دغهٔ نوم یا له یوناني څخه پښتو ته مهاجرت کړی وي او یا دا چې له پښتو څخه یوناني ته تللی دئ. دغه Margery د Marjorie په بڼه هم لیکل کـېږي په انګلیسي ژبو هېوادونو او اروپا کې مارګریت Margaret سوی دئ. ژباړونکی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د جنرال عبدالله توخي زوی دئ؛ دوی په هغو پښتـنـي کورنیو پوري اړه لري چې د امیر عبدالرحمن خان پر مهال د افغانستان په شمال کې مېشتي سوې وې ؛پلار ئـې د امیر عبدالرحمن خان تر لاس لاندې خدمت کړی وو. جنرال عطاء محمد توخي د امیر حبیب الله خان او امیر امان الله خان پر مهالونو خدمات وکړل. د ۱۹۴۰ز لسیزې په اوږدو کې متقاعد سو. د ۱۹۶۴ز کال د لویې جرگې د پرانیستونکې /افتتاحیه غونډې د رئـیس په توگه غوره او وټاکل سو. د ۱۹۶۰ز لسیزې په اوږدو کې په مزار شریف کې وفات سو.

## نور بیا

### صدیق کاوون توفاني

د غوایي له پاڅون وروسته د...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ